بحیثیت مسلمان زمونږ انفرادي او اجتماعي ذمه داریانے کومے دي ، دے موضوع باندے یو مختصر او جامع رساله.

# بحثیت مسلمان زمونږ ذمه داري

## پښتو




مرتب
مولانا مفتي مُحَمَّد ایاز درّاني صاحب حفظه الله



العلم پبلیکیشنز
العلم پبلیکیشنز

# بحثیت مسلمان

# زمونږ ذمه داری

ابومعاویه مولانا مفتی محمد ایاز حفظه الله

العلم پبلیکیشنز محله جنګی پشاور

091-2590315

# فهرست



| نمبر شمار | عنوانات | صفحه |
|---|---|---|
| 1. | انفرادی ذمه داری | 2 |
| 2. | ایمان | 5 |
| 3. | عمل | 8 |
| 4. | د اصلاح طریقه او لاره | 12 |
| 5. | زمونږه کار | 15 |
| 6. | زمونږ حال او جائزه | 16 |
| 7. | اجتماعی ذمه داري | 17 |
| 8. | د دي ذمه داریٔ او شهادت حق اهمیت | 20 |
| 9. | دعوتِ دین یا قولی شهادت | 24 |
| 10. | اقامت دین یا عملی شهادت | 26 |
| 11. | د دواړو شهادتونو یعني دعوت او اقامت دین جائزه | 29 |
| 12. | زمونږ مقصد او طریقهٔ کار | 37 |
| 13. | نظم د جماعت | 38 |
| 14. | زمونږ مطلوب کار | 42 |

| | | |
|---|---|---|
| .15 | تاسو نه زمونږ مطالبه | 44 |
| .16 | خلاصه د بیان | 45 |
| .17 | تعارف اشاعت | 46 |
| .18 | زمونږه اعلان | 47 |
| .19 | زمونږ منشور (اغراض ومقاصد) | 50 |

بسم الله الرحمن الرحيم

په هر مسلمان باندي د شريعت څه ذمه دارئ عائد کيږی چي د هغے پور کول په دۀ بے حد ضروری او لازم دی چي د هغے نه بغير يو مسلمان، حقيقی مسلمان نه شی جوړيدي۔

د دي مثال په شان د هندوستانی مسلمان دے چي د هغۀ نه تپوس کړی شوي وو چي تۀ مسلمان يې؟ نو ډير په فخر سره جواب ورکړو چي الحمد الله زۀ مسلمان يم۔تپوس کووُنکی بيا سوال اوکړو چي تاله کلمه درزی؟ نو جواب يې ورکړو چي نا۔بيا تپوس کووُنکی تپوس اوکړو چي ته مونځ کوي؟۔ نو شرمندګئ سره يئ اوئيل چي نا!نو سائل عرض اوکړو چي بيا ته څنګه مسلمان يې؟نو هغۀ جواب ورکړو چی زۀ څُکه مسلمان يم چي زمونږه په کور کښی د پلار نيکه لوټا او مصلیٰ موجود ده۔ نو دغه رنګه دا مسلمان به هم د دي د ذمه داري نه بے خبر او د دي د ادا کولو نه بغير صرف د لوټے او د مصلي مسلمان به وی۔ د دي په مقابله کښی کۀ يو مسلمان ښه او نيک وی نو هغۀ هم صرف په الله او رسول باندي، د هغۀ په کتابونو او په ورځ د آخرت باندي ايمان راوړل يا صرف مونځ کول روژه حج او زکوة هر څه ګڼړلی دی۔بحر حال د دغه ذمه دارو نه مونږه صرف په دي وئيلو سره نه خلاصيږو چی مونږه مسلمانان يو او مونږه د الله او د هغۀ دين منلي دي۔مونږه مونځ کوؤ ، روژي نيسو ، او نور عبادات هم کوؤ۔په

حقیقت کښې په مونږه په حیثیت د یو مسلمان کۀ هغۀ سړے وی یا ښځه ، بوډا وی که ځوان ، تعلیم والا وی که غیر تعلیم والا وی۔ سکول ،کالج، او د یونیورسټۍ طالب العلم وی که مزدور غرض دا چې د هغۀ تعلق دَ هر جنس او شعبې سره وی دوه ذمه دارئ یو انفرادی ۔ دوئم اجتماعی حیثیت سره عائد کیږی ۔ چې په هغې ځان پوهه کول،ادا کول او بل پوهه کول ضروری دی.

## انفرادی ذمه داری

عام طور باندې هغه کس ته په معاشرې کښې ډیر په بد نظر سره کتلې کیږی چې د خپل مستقبل د پاره سوچ و فکر نه کوی ، خلق هغۀ بے وقوف ګڼړی حالانکه دنیاوی زندګی اوعارضی کامیابی یو څو ورځې ده او د آخرت زندګی همیشه او نۀ ختمیدو والا ده۔
دغه رنګ د آخرت کامیابی هم د همیش والی ده او ناکامی ئے هم د همیش والی ده ۔ د اللّٰه تعالیٰ ارشاد دې۔

فَمَن زُحۡزِحَ عَنِ النَّارِ وَاُدۡخِلَ الۡجَنَّةَ فَقَدۡ فَازَ (العمران : )

څوک چې جهنم دَ اوور نه بچ کړی شو او جنت ته داخل کړې شو نو هغۀ همیشه دپاره کامیاب شو۔

دنیا کښې کامیابی هم ابدی نه ده او ناکامی هم د همیش والی نه ده لکه مثلا که یو کس امتحان کښې فیل شو نو هغه سپلمنټری (ضمنی امتحان)کښې یا راتلونکې کال کښې امتحان ورکولې شی او

بار بار موقع ملاویږی خو که آخرت کښې یو ځل انسان ناکام شو نو بیا ورته چانس نه ملاویږی او مونږ له دا سوچ کول پکار دی چې مونږه آئنده زند ګئ دپاره څه کړي دی اوڅه تیاري موکړے دی اوکه کړي مو دي نو واقعی دغه تیاری د کامیابۍ او نجات دپاره کافی دي؟

مونږه د دي عارضی دنیا او د دي عارضی دنیاوی مستقبل دپاره هره ورځ محنت او ځان ستړی کوؤ او بل طرف ته مونږ د خپل همیشه او اخروی مستقبل دپاره دومره څو سعي او محنت ندے کړے چې څومره د آخرت د کامیابۍ دپاره ضروری دے او نه مو دي دپاره په صحیح طریقه چرته سوچ کړي دي۔ کهٔ تاسو اوسه پوري داسي نه وی کړي نو راشئ اوس سوچ اوکړئ او ځان پوهه کي چې داخه دي ؟ د اللّٰه تعالیٰ ارشاد دی۔

**یاایها الذین امنوا اتقو الله ولتنظر نفس ما قدمت لِغَدٍ .(حشر )**

اے ایمان والو: اللّٰه نه او یریږئ اوهر سړی له کتل پکار دی چې دهٔ صبا (یعنی قیامت) د پاره څه شي وړاندی لیږلي دی۔ یعنی په مسلمان باندي ټولو نه اول انفرادی حیثیت سره اصلاح نفس (د خپل نفس فکر لازم دي او انفردی اصلاح دوه کارونه کول ضروری دی، یو ایمان یعنی د عقیدے درست والي پوخ والي او دوئم د عمل جوړول اودرست کول۔قرآن پاک چي چرته هم د کامیابئ او جنت تذکره کړی ده نوهلته

يئ د دغي کاميابئ او د حصول جنت دپاره هم دغه دوه څيزونه ايمان او عمل يئ معيار ګرځولی دي۔

**ان الذين امنوا وعملو الصلحت لهم جنت النعيم.** (لقمان : )

بے شکه هغه کسان چي ايمان يئ راوړي دي او نيک (دنيت مطابق) عمل کوی دوی دپاره د نعمتونو باغ (جنت) دي د اصلاح نفس په سلسله کښی د ايمان مثال په شان د بيخ (جړ) او بنياد دي او د عمل حيثيت دَ هغي ولاړي آبادئ په شان دي۔ که چري بيخ (جړ) او بنياد مضبوط نه وی نو د دي آبادئ هيڅ اعتبار نشته ۔ دغي وجه نه اسلام اول په ايمان او عقيده زور ورکوی او دعقيدي د درست کيدلو او مضبوط کيدلونه بعد په عمل زور ورکوی زکه چی صحيح عقيدي نه بغير عمل هيس حيثيت نه لری لکه څنګه چي د الله تعالیٰ ارشاد دي۔

**وقدمنا الی ما عملوا من عمل فجعلنه هباءً منثورا.** (فرقان )

چي کوم خلق بغير د عقيدي نه څه عمل کوي نود هغوی باره کښي الله فرمائی ،او دوی چي کوم عملونه کړی وی مونږه به هغي ته متوجه شو او په شان د الوزولی شوي دوي به يئ او ګرځو دغه وجي نه دَ صحيح عقيدے حصول نه بعد د عمل نمبر راځی او د عمل نه بغير کاميابی نيمګری ده۔

# ایمان

ایمان وئیلي کیږی د زړه دویخ نه دا عقیده ساتل او د ژبي په رشتین والی سره دا اقرار کول چي د دی تمام کائنات پیدا کوونکي ، مالک ،خالق ،مختار ،مدبر او حاکم الله تعالیٰ دي ـهغی سره هیڅ مخلوق کهٔ وړو کي وی که غټ، خاکی وی یا نوری یا ناری ،پیري وی یا فرشته وی ـ محمدﷺ سره سره هر نبی وی یا ولی وی یا یو عام انسان مړۀ وی یا ژوندی ،بت وی یا ګټه وی یا ونه ،هیڅ څوک د الله په ذات و صفات نومونو او کارونو کښی شریک نیشته ، نه په خلق (پیدائش) کښي نه اختیار کښي ، علم کښی، د عالم نظام چلولو کښي، مصیبت او خفګان راوستلو او لري کولو کښي ـ حکم او فیصله کولو کښيـ دغه رنګ د الله نه سوا څوک د غائبا چغي لائق دی ـ د عاجزئ او عبادت و بندګئ یا رکوع او سجده کولوـ دا توحید دي د دي په خلاف شرک چي قابل معافی نه دي۔

**انه من یشرک بالله فقد حرم الله علیه الجنة ومأواه النار.(مائده )**

چا چي د الله سره شریک جوړ کړو نو الله په هغۀ جنت حرام کړی دی او د دۀ ځائي اُوور (جهنم) دي۔څه رنګ چی (سرطان ) د انسان د بدن کینسر دي او انسان نۀ پریږ دی تر دي چي مړ ئي کړی نو دغه رنګ نو شرک د انسان د روح کینسر دي او هله پۀ پریږدی چي جهنم ته يۀ

اورسوی ـ دے وجه نه شرک نه ځان ساتل او د توحید عقیده ساتل د اسلام اولني تعلیم او مطالبه ده د اصلاح نفس د پاره اولني دارو دی په عقیده د توحید باندے ایمان لرلو سره سره په رسالت باندے ایمان راوړل چي څومره انبیا کرام علیهم السلام الله تعالیٰ د نیا ته هدایت د پاره رالیږلي وو هغهٔ ټول برحق ،هدایت یا فته ګناهونو پاک او دخپلي زمانے د خلقو دپاره د ژوند تیرولو نمونه او واجب الاطاعت وو ددي انبیاء کرام علیهم السلام چی کومه سلسله د حضرت آدم علیه السلام نه شوي روانه وه هغه په آخر کښي په نبی کریم علیه السلام او دریدله اوس د نبی کریم ﷺ نه بعد بل نوي پیغمبر به نه پیدا کیږی نبی علیه السلام خاتم الانبیاء دي او مونږ مسلمانانو باندي د نبی علیه السلام تابعداری او اطاعت فرض دي لکه څنګه چي د الله ارشاد دي.

**یاایها الذین امنوا اطیعو الله واطیعوا الرسول(نسأ : ۵۸)**

اے ایمان والو! د الله او (دهغهٔ) درسول تابعداری اوکړئ او په حدیث پاک کښي هم راغلي دی۔

**من اطاع محمدا فقد اطاع الله ومن عطی محمدً فقد عصی الله.**

**(مشکوۃ)**

چا چي د محمدﷺ تابعداری اوکړه نو هغهٔ د الله تعالی تابعداری اوکړه او چا چي د محمدﷺ نافرمانی اوکړه نو په حقیقت کښي هغهٔ د الله تعالیٰ نافرمانی اوکړه د نبی صلی الله علیه وسلم په رسالت باندي د ایمان

ساتلو تقاضه دا ده چي مونږه سنت طريقي خپلي کړو په هره موقع په هر کار کۀ هغۀ صورت وی اوکه سيرت وی يا اخلاق او کردار پا سيدل کيناستل، خوراک څکاک،خوشحالی غم،عبادت وی اوکه معاشرت وی، ټول په ټوله د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د سنت په طريقي سره ادا کول ضروری دی. دغه رنګه په آخرت باندے ايمان دا دي چي دنيا کښي هر قسم خلق اوسيږی نيک او بد او مظلوم ليکن دنيا کښي نۀ بد سړی ته د هغۀ د بدئي اونۀ ظالم ته د هغۀ د ظلم سزا ملاؤ شوه اونۀ نيک او مظلوم ته د هغۀ د نيکئ او مظلوميت څه بدله ملاؤ شوه دغي وجه نه يو داسي ورځ پکار ده چي په هغي کښي ظالم او بدکار ته د هغۀ د ظلم او د بد کارئ سزا ملاؤشی او نيک او مظلوم ته د هغه د نيکئ او مظلوميت بدله ملاؤ شی او هغه ورځ د قيامت ده د قيامت راتلل دا د الله د عدل او د انصاف تقاضه ده کۀ چري قيامت نۀ وی نو بيا به ډير غټ ظلم کيدو دغه رنګه بيا په جنت او جهنم عقيده ساتل چي د نيک او بدکارو خلقو د سزا او جزاء مقامات دی. او ورسره قبر (برزخ) زندګئ باندي ايمان ساتل . دغه رنګه په فرشتو اوپه تقدير باندي او د الله تعالیٰ په کتابونو باندي ايمان ساتل، چي الله تعالی په دنيا کښي د زندګئ تيرولو د پاره خپله حکم نامه، قانون او د ژوند د ستور د کتابونو په شکل کښي دي دنيا ته رأوليږلو په دي کښي آخری کتاب هغه قرآن پاک دي،چۀ په هغي عقيده ساتل،د هغي مطابق ژوند تيرول او دي لره خپل قانون تسليمول داپه مونږه فرض دی.

مختصر دا چي په دي ټولو ايمانياتو باندي پخه عقيده ساتل ټولو نه اول فرض دی او د دي ايمانياتو په سلسله کښي عقيده د توحيد د ټولونه اهمه او رأس العقائد ده کۀ چری يو انسان په باقی عقائدو مثلا د الله تعالیٰ وجود،رسالت، آخرت، فرشتو، تقدير، اوپه کتابونو وغيره باندي خو عقيده ساتی ليکن عقيده د توحيد نه لری. او بل څوک د الله سره په هر حيثيت چي وی شريک جوړوی نو د دي سړی دا باقی عقائد هم قابل قبول نۀ دی د دغه رنګه خلقو تذکره الله څه داسي کړي ده-

**ومايؤمن اكثرهم بالله الّا وهم مشركون-(يوسف :۱۰۴)**

ډير خلق (باقی ايمانياتو باندي د توحيد نه بغير) ايمان راوړ لو سره هم مشرکان وی-

## عمل

د اصلاح نفس په ضمن کښي عقيده او د ايمان نه بعد د عمل نمبر راځی چي د يو مسلمان عقيده د قرآن او سنت مطابق درست شی نو هغۀ نه بيا د عمل مطالبه کيږی او دا عمل د دي ايمان او عقيدي عملي ثبوت وی-

اوس سوال دا دي چي عمل څه شي دي عام طور باندي مونږه دا ګنړو چي عمل صرف مونځ ذکر تلاوت روژه او حج ته وئيلي کيږی او بس، حالانکه د عمل دائره ډيره وسيع (فراخه)ده عمل وئيلي کيږی عبادت، اخلاق معاملات اور معاشرت ته په عبادت کښي مونځ ذکر تلاوت حج جهاد دعا قربانی خيرات اور صدقات وغيره راځی او اخلاق

نوم دي دَ رشتین والی، صبر شکر، دیانت، احسان ایفاء عهد (وعده پوره کول) حسن خلق او حسن سلوک کول دغه رنګه معاملات هم د عمل یو حصه ده چې کومه معامله صحیح اوکومه غلطه او ناجائزه ده کومه طریقه دَ آمدن (ګټلو جائز اوکومه ناجائز ده د ګټلو څۀ طریقه ده او د خرچ کولو څۀ طریقه ده داسي نه چي د پاک او پلیت هیڅ تمیز پکښي نۀ وی معاشرت وئیلی کیږی دَ ژوند تیرولو طریقي ته چي یو انسان خصوصاً مسلمان په یوسوسائټی (معاشره) کښی ژوند تیروی نو د دۀ په چا باندي او څنګه حق دي او په دۀ باندي د چا چا حق او کوم یو حق لازم دي او ورسره د ناستي پاستي، خوراك څکاک او د لباس وغیره اچولو اداب څۀ دی دغه رنګه کۀ معاشره کښي څۀ جهګړ وغیره اوشوه دعوی یا معامله راغله یا اختلاف پیدا شو نو دا به د کوم قانون مطابق حل کول غواړی. او هغه قانون د شریعت قانون او د دین دَ وئیلي شوی حقوقو او آدابو نوم دے د عمل د حقیقت مختصر بیان دے څنګه چي په دي اعمالو عمل کول ضروري او د دي نه بغیر ه اصلاح نفس نه کیږی دغه رنګه اعمال عبادات ذکر او تلاوت دعا اور خیرات اخلاق او معاملات اور ژوند تیرولو د پاره یو ضروری شرط چي د هغي نه بغیر د عمل د الله په دربار کښی شرف قبولیت نه شی خاصلولی لکه مونځ بغیر اودس نه نه ادا کیږی نوکه چرته یو مسلمان ډیر محنت او خشوع او خصوع سره یو عمل اوکي کښ بهر سومر ه غټ عبادت ولي نه وی

لیکن چي هغه شرط پکښی پورانه وی نو په دي صورت کښی تمام محنت او عبادت و عمل هیس نه دي لکه سنګه چی ارشاد دي.

**فحبطت اعمالهم فلا نقیم لهم یوم القیامة وزنا-** (کهف ۱۵۵)

یعنی د دغي شرط نه بغیر عبادت کونکي عمل په ورځ د قیامت په مونږه نه تلو یعنی هغه قابل قبول نه دي. او هغه شرط دا دی چی دا عمل د نبی په طریقی سنت باندي کول زکه الله ته هغه عمل قبول دي چي په هغي کښي رنګ محمدیﷺ وی. الله ته صرف عمل کول مطلوب نهٔ دي بلکه هغه عمل مطلوب دي چي د محمد رسول اللهؐ د سنت د طریقي مطابق ادا کړی شی او چي په هغي د سنت مهر لیږیدلی وی سرنګه چی د یو ملک سکه (روپئی) هغه وخت پوري قابل قبول نه وي یا تر هغه وخته پوري واغستلو او خر سولو قابل نه وی تر سو پوري چي په هغي د مر کزي بینک مهر او اعتماد نه وي ګنی هغه به جعلي او نقلي تصور کیږی صرف دا نه چي جعلي د نو په دي هیس نه ملاویږي بلکه جعلی سکه (روپئی) به برآمد کیدلو سره سزا اور قید هم دي دغه رنګه هغه عمل چی د سنت مطابق نه وي هغه صرف ناقابل قبول نه بلکه به هغي باندي به په ورز د قیامت الله مواخذه (نبول ) هم کوي لکښ سنګه چی د رسول اللهؐ ارشاد دي

**لیس منا من عمل عملا بغیر سنتنا.(جامع الصغیر)**

هغه کس زمونږنه نه دي (دامتی کولو دعوی یې جمع نه ده ) چې
عمل خو کوی خو لیکن زمونږ د سنت د طریقي نه بغیر پخپله
طریقي سره چي کم عمل او عبادت د سنت طریقي خلاف اوکړي
شي نو هغي ته بدعت وئیلي کیږي چي د مشرک نه بعد ټولو نښ
غټه گناه ده ارشاد نبوی ﷺ دي.

**کل محدثه بدعة وکل بدعة ضلالته.(مشکوه)**

په دین کښې هر هغه نوي خبره اوکار چي د ثواب په نیت
اوکړي شي هغه بدعت دي او هر بدعت هغه گمراهی ده یعنی هغه
کار او طریقه چي په قرآن کښې نه وي نبی کریم ﷺ او د هغی صحابه
کرام رض نه وی کړی اونه ده تابعین او تبع تابعین نه د هغي ثبوت
ملاویږی او یو کس یې دین او عبادت گڼړي او ثواب په نیت سره یې
کوي نو هغه بدعت دي بهر حال عمل اوعبادت د پاره شرط دي د
نبی کریم ﷺ د سنت طریقي باندي کول دا خو هغه ذمه داري ده چي
په یو مسلمان باندي انفرادی حیثیت سره د اصلاح نفس په
سلسله کښی لازم کیږی یعنی د ایمان او عقیدي درست کول او
مضبوط کول او عمل درست کول دیته مونږه د فرد اصلاح وایو او
دغي کار د نبی کریم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو په زمانه
کښي د اصلاح معاشري او تشکیل د معاشري کښی اهم کردار ادا
کړي وو نبی کریم صلی الله علیه وسلم هم د ټولو نه اول هم په دی

دوو خبرو محنت اوکړو نو هله چرته پاک صفا او یو معیاری معاشره وجود ته راغلی لیکن افسوس چي نن تقریبا تمام مذهبي پیشوا او سیاسي رهنما اصلاح معاشره د پاره کوشش کونکي اسلامي ریاست او خلافت د قیام د پاره جدوجهد کونکي تنظیمونه اداري اوانجمني په دي خبره سه توجه هم نه ورکوي او نه د دي ضرورت محسوس کوي د دي مثال د هغه معمار (ګلګار) دي چي عمارت جوړاوی لیکن د بنیاد ضرورت اهم ګنړي یا بنیاد مضبوط جوړولو باندي هیڅ توجه نه ورکوی دا طریقه د نبوی طرز اصلاح نه ډیر مختلف ده دغه وجه ده چي د اصلاح کوشش کولو باوجود اصلاح نه کیږی.

## د اصلاح طریقه او لاره

اوس سوال دا دي چي د دي ایمان او د عمل د اصلاح د پاره کمه طریقه او لار خپلول غواړي آیا مونږه چرته غارونو یا ځنګلوته لاړ شو او هلت کښي مجله کشی اوکو دنیا پر یږدو خپل اولاد خزه بچي کاروبار پریږدو یا چرته یو لیډر او پیر فقیر په لاس کښی لاس ورکو یا دي د پاره په دغي عمر کښي مدارس ته تلل او ابتدائي درجو نښ واخله تر ده آخر پوري یو مولا یا پیر یا آمیر صاحب د کتاب شپه او ورز ورد شروع کو یا تسبیح په لاس کښی راوخلو او صرف ذکر او دعا باندي خپله اصلاح اوکو؟راشي مونږه

به تاسو ته هغه بهترین طریقه د اصلاح او د عمل او ایمان د پوخ والی لار او فائیو چي د هغي په ذریعه سره د اسلام ابتدائی او اولین جماعت صحابه کرامؓ اصلاح اوشو چی د هغي نه دو ي ایمان او عقیده ایزده کړه چي د هغي په ذریعه سره دوي خپل عمل درست کو او داسي هدایت ورته ملاؤ شو چي مالک د عرش پخپله د هغوی د هدایت یافته کیدلو اعلان اوکو.

(**اولئک هم الراشدون**)حجرات:۷ دغه خلق کامیاب دی

(**اولئک هم المهتدون**)بقره: دغه خلق هدایت یافته دی

(**اولئک هم المئومنون حقاً**) انفال م: دغه خلق ریشتي مومنان دی

(**اولئک الذین هدی الله فبهدا اهم اقتده**) انعام:۹۰

دا هغه خلق دي چي الله ورته هدایت کړي دي نوته د دوی هدایت پسي روان شه هغه لاره او طریقه صرف او صرف د الله کلام یعنی قرآن پاک دي چي د صحابه کرامؓ اصلاح يئ اوکړه هدایت يي ورکړو صرف دومره نه بلکه دا قانون يئ جوړ کړو چي.

**شَهۡرُ رمضان الذی انزل فیه القرآن هدی للناس (بقره)**

یعنی هغه قرآن چي په میاشت د رمضان کنبي نازل شوي د تمام دنیا خلقو دپاره ترد ابد پوري دَ هدایت ذریعه او ضامن دي او صرف په نوم هدایت نه دي بلکه داسي هدایت او اصلاح چي دَ هغي په شان اصلاح او هدایت نه دنیا عاجز ده.

**ان هذا القرآن یهدی للتی هی اقوم .(بنی اسرائیل:۹)**

یعنی د قرآن هدایت مضبوط او قوی هدایت دي هم دغي طرف ته امام مالک اشاره کوي چي

**لن یصلح اخر هذه الامة الاما اصلح اولها**

د دی امت محمدیه صلی الله علیه وسلم د آخری خلقو اصلاح به هم په هغه طریقه کیږی چي څنګه د ړومنبی خلقو (صحابه کرامو) شوي وه صحابه کرامو اصلاح نبی کریم صلی الله علیه وسلم د قرآن په ذریعه سره کړي وه.

**لقد منّ الله علی المؤمنین اذ بعث فیهم رسولا منهم یتلوا علیهم اٰیته ویزکیهم ویعلمهم الکتاب والحکمة وان کانوا من قبل لفی ضلال مبین۔** ( العمران:۱۶۴) بے شکه الله تعالیٰ په مومنانو غټ احسان او کړو چي په دوی کښي لرئ د دوی (جنس) نه یو پیغمبر راولیږلو چي د الله آیتونه به دوی باندي او پاکول یعني تزکیه)به کوی د دوی او د الله د کتاب او سنت تعلیم به ورکوی اګر چي دوی مخکښي د دینه په ګمراهئ ښکاره کښی وو غرض دا چي دَ ایمان، عقیدي او د عمل د اصلاح ذریعه قرآن دي نن صبا چي مونږ کښی څومره غلط عقائد او بد عملئ هر طرف په نظر راځی سره د دینه چي د اصلاح معاشري چغي وهو او کوشش کوو نو ددي اصل وجه د قرآن نه لري والي قرآن نه بے خبری او د قرآن به معنی او مقصد ځان نه پوهه کول دی او د مصلحین

(اصلاح کوؤنکو) طریقه هم د قرآن نهٔ بغیر ده نو اصلاح نه کیږی اوکهٔ چرته کیږی نو هغه هم ناقصه نهٔ ده اصلاح پته وي چي د کومو امورو اصلاح کول غواړی او نهٔ د اصلاح ذریعه او لاره معلومه ده حالانکه الله تعالی پخپله په قرآن کښی مونږ ته بیان کړي ده.

**ولو کانوا یؤمنون بالله والنبی وما انزل الیه ما اتخذو هم اولیاء ولکن کثیرا منهم فٰسقون .(مائده :۸۱)**

یعنی که چري دي خلقو د الله په توحید او د نبی په تابعدارئ او په هغه کتاب یعنی قرآن چي په نبی صلی الله علیه وسلم نازل شوي دي په هغي ایمان ساتلے نوسره د مسلماني نه به یئ غیرو (کفار)لره دوست نه جوړ ولي خو لیکن په دوی کښي اکثر فاسقان دی یعنی ددي ایمان و توحید سنت نبوی او دقرآن مخالفت کوؤنکی دی.

## زمونږه کار

زمونږ طریقه د اصلاح اوکار دا ده چي د قرآن دَ درسونو او بیان په ذریعه سره د هر مسلمان خواه که هغه سړي وي که ښځه تعلیم یافته وی یا غیر تعلیم یافته ځوان وي کښ بوډا د هر یو عمل او عقیده درست کول او هغه د خپل عمل او عقیدي نه خبرول الحمد الله زمونږ د جماعت د امتیاز دي چي بل چاته حاصل نه د ي حقیقت نه خو خپل څهٔ کئ چي پردي هم انکار نهٔ شی کولي چي چرته هم د قرآن د درسونو اهتمام وی او په هر یو سطح وی نو هغه د اشاعت التوحید

والسنت ارکان علماء او عوام سرې په جماعتونو، مساجد، مدارس، سکول،کالج،یونیورسټۍ سرکاری اوغیر سرکاری ادارو خپلو محلو او علاقو کښې خپلو کورونو کښې غرض دا چې په هر ځائې کښې اهتمام کوی د دینه علاوه په رمضان المبارک کښې د نورو طلباؤ د پاره د تعلیمی ادارو د ګرمیانو په چهټیانو په موقع باندې د دورۀ تفسیر انعقاد او انتظام د دی جماعت کار دې په دور حاضر کښې که ملکی سطح باندې د خلقو د عقائدُ درست والې او قرآنی تعلیمات سره یئ څه تعلق جوړ شوې دې نو دا د ي جماعت محنت دې-

# زمونږ حال او جائزه

ډیر کم خلق به داسې وې چې هغوی د قرآن وسنت په ذریعه سره خپله یا د نورو خلقو صحیح اصلاح اوکړی او خپله ذمه داری پوره کوې لیکن دَ اکثریت مسلمانانو حال د بد نه بدتر او د ژوند په هر یو شعبه کښې د غیرو نقل کول دی. عقیده د یهودو ،نصارو او شیعه ګانو نه اغستل شوې ده عمل د غیرو په شان د اسلامی تعلیمات نه خلاف بے نمازی بے دینی فحاشی و عیاشی بے حیائی او بے غیرتی دروغ خیانت دهوکه ظلم او فساد او بد اخلاقی عام ده د دوی اوسط هم څهٔ دَ کافرو یهودو او نصارو او غیر قومونو نه کم نه دي دغه رنګه زمونږه معاشرت زمونږه اوسیدل لباس شکل او صورت رسم او رواج تقریبات کلچر او تهذیب خوشحالی او غم غرض دا چې انفرادی او اجتماعی ژوند تقریبا په هره لحظه کښې د اسلامی تعلیماتو نه لري

والي او د غیرو او خصوصا د یورپ تقلید کولي شی کهٔ مونږه د تعلیمي میدان خبره کوو نو علم نظام تعلیم او انداز تربیت ټول د کفارو او لارډ میکالے نه اخلو که مونږه انجمنداری او تنظیمونه قائم کوو نو مقصدِ نظام او طریقهٔ کار د پار ه دستور او سیاسی جدوجهد هر څه چي وی نو ټول د کافرو قومونو نقالی وی دا دي زمونږ د مسلمانانو حال خواه که مونږ به ژبه هر څه وائیو او دعوی کوو خو لیکن زمونږ دا عقائد،ژوند او عمل ګواهی ورکوی چي د دي دین هیڅ طریقه زمونږه نهٔ ده خوښه د دي په هیڅ قانون کښي مونږ خپل فلاح او نجات نه ګنړو افسوس حد افسوس دغه اصل وجه ده چي هغه معزز مسلمانان چي دهغوی رعب او دبد به وه هغه اوس بخپله د کفر د طاقت نه رپیږی د دي واحد حل دا دي چي اول د قرآن پاک په تعلیماتو سره خپله ذاتی او انفرادی اصلاح اوکړي شی چي ملطوب ده ځکه په هغي سره یو مسلمان حقیقی مسلمان جوړیدي شی چي د هغي بیان مونږه مخکښي اوکړو او بیا د دینه بعد اجتماعی اصلاح دپاره پاسید ل او میدان ته راتلل غواړي-

## اجتماعی ذمه داري

انفرادی اصلاح نه بعد دویمه اهم ذمه داری اجتماعی ذمه داری یا اجتماعی اصلاح د پاره حقیقی جدوجهد کول دی لیکن ډیر افسوس سره داخبره کومه چي څهٔ رنګه په اولنۍ ذمه داري کښي مونږ غفلت کړي دي او کوو یۍ د هغي نه زیات کوتاهی د اجتماعی ذمه دارۍ په

معامله کښې لګیایو کوو یئ . چونکه اسلام د خیر خواهئ د ین دي د نورو مزهبونو او (دینونو) په شان د خود غرضئ مذهب نهٔ دي. په اسلام کښې کهٔ یو مسلمان خپله فائده غواړی نو د نورو دپاره به هم دغه شان سوچ کوی اوس کهٔ د یومسلمان انفرادی اصلاح اوشوه او په خپل عقیده او عمل یئ ځان پوهه کړو نو په دي به اکتفاء نه کوی بلکه دا به نورو خلقو ته هم رسوی او خبروی به یئ او په دي لائن باندي د راوستو کوشش به کوی دا خبره ددي دین امتیاز او خصوصیت دي ارشاد نبوی صلی الله علیه وسلم دي چي

(**الدين النصيحة**) د دین خیر خواهی ده.

نبی صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړي شو (لِمن یا رسول الله) یعنی چاسره خیر خواهی اوکړو نبی کریم صلی الله علیه وسلم په جواب کښی او فرمائیل :

**لله ولرسوله ولكتابه ولائمة المسلمين وعامتهم** .(بخاری کتاب الایمان)

یعني د دینِ اسلام مطالبه دا ده چي د الله سره، رسول الله صلی الله علیه وسلم سره، د الله د کتاب سره،د مسلمانونو حاکمانو امراء (بادشاهان) سره او عام خلقو سره خیر خواهی اوکړي شي د الله سره د خیر خواهئ مطلب دا دي چي په الله باندي کامل ایمان یعني د هغهٔ سره په ذات اوصفات کښی هیڅ مخلوق نه شریک کول او په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندي ایمان دهغوی احکامات منل او اطاعت کول او د کتاب الله سره خیر خواهی په هغي ځان پوهه کول په هغي عمل کول،

هغه بیا نول او دینه د خپلي زندګۍ قانون جوړول دی د مسلمانو امراء او حکام او بادشاهانو سره خیر خواهی دا ده چی هغوی کله د الله دین قائم او نافذ کوی نو دهغوي تابعداری کول اوپه دي کښي ورسره ملګرتیا کول او د عامو مسلمانانو سره دَ خیر خواهۍ مطلب دا دي چي هغوی ته فائده رسول او هغوی د نقصان نه بچ کول او په سخت وخت کښي په کار راتلل او تهولو نه غټه فائده د هغوی اصلاح کول او هغوی د اسلام نه خبرول دی د دي اعلی ذمه دارۍ د پورا کولو د وجي نه الله دي امت ته د خیر امت وئیلي دی:

كنتم خير امة اخرجت للناس. (العمران :۱۱۰)

تاسو بهترین امت یئ ځکه چي تاسو د خلقو خیر خواهی او فائدي دپاره پیدا کړی شوی یئ ذاتی او انفرادی ذمه داری او اصلاح دا بنیاد دي چي د دي نه بغیر د مسلمانئ تصور غلط او دَ مسلمان کیدلو دعوٰی دروغژنه ده دینه علاوه چي په مونږه کومه غټه او درانه اجتماعی ذمه داري عائد کیږی هغه دا ده چه مونږه دَ تمام دنیا مخي ته دَ دي حق ګواهان جوړ شو او اود ریږو چي په کوم زمونږ ایمان دي اوچي د کوم مونږ دعوٰی کوؤنکی یو ارشاد ربانی دي-

وكذلك جعلناكم امة وسطا لتكونوا شهداء على الناس ويكون الرسول عليكم شهيدا.(بقره: ۱۴۳)

مونږه تاسو لره بهترین عادل او وسط امت ګرځولي یئ (او دا به بهتر هله وی چي) تاسو دَ دنیا په خلقو ګواه شئ او رسول د الله په تاسو ګواه شی

اوس دي ذمه داري له چي هر څهٔ نوم ورکړئ کهٔ اجتماعی ذمه داری ورته وائی یا اجتماعی اصلاح یا د قرآن په ژبه ورته شهادت علی الناس یا شهادت حق قرآن دیته آمربالمعروف ونهی عن المنکر هم وئیلی دی او دَ دعوت او اقامت دین په نوم سره هم ددي تذکره کړي ده.

## د دي ذمه دارئ او شهادت حق اهمیت

چي کومه ذمه داری په مونږه او تاسو اچولي شوي ده هم دغه د دي امتِ محمدیؐ د وجود مقصد او خصوصیت دي چي دهغي پورا کول په مونږه او تاسو دی دا په مونږه د الله طرف نه عائد شوي فرض دی ځکه دالله تعالیٰ حکم دي.

**ومن اظلم ممن کتم شهادة عنده من الله.(بقره: ۱۵۰)**

او څوک دي غټ ظالم دهغهٔ چا نه چي هغي سره د الله طرف نه یو ګواهی وی او هغه یئ پټه کړی دغه رنګه په بل عنوان سره په سورة العمران ۱۰۵ کښي حکم ورکوی او فرمايي.

**ولتکن منکم امة یدعون الی الخیر ویأمرون بالمعروف وینهون عن المنکر.**

په تاسو کښي داسي یو جماعت پکاردي چي دَ خیر طرف ته رابلل کوی او خلقو ته دَ معروف(توحید وسنت او هر نیك کار)طرف ته حکم ورکوی اومنکر (شرك وبدعت هر بدکار) نه منع کول کوی.

**کنتم خیر امة اخرجت لناس تأمرون بالمعروف وتنهون عن المنکر وتؤمنون باالله.(العمران: ۱۱۰)**

او تاسو بهترین امت یئ دَ خلقو (فائدي دپاره)پیدا کړی شوی ئي تاسو به خلقو ته د معروف حکم کوئ او دَ منکر نه به منع کول کوئ او پخپله به هم په الله باندی ایمان ساتئ.

په دی آیتونو کښي دواړو زمه دارو ته اشاره ده یو اجتماعي او دویمه انفرادی چي تاسو به پخپله ایمان والا ئي ځکه د نورو خلقو اصلاح او په هغوی شهادت حق هله ممکن کیدیشی چي پخپله اصلاح والا وی او د شهادت علی الناس لائق وی قرآن پاک کښي یو دوئم ځائي کښي الله د هغي ذمه داریٔ طرف ته اشاره کوی او په ډیر پرزور الفاظو سره دا خبره بیان فرمائیلي ده که چري تاسو دا ذمه داري پوره نه کړه نو تاسو د الله په نزد هیڅ نه ئي.

قل یآ اهل الکتب لستم علی شیٔ حتی تقیمو التورة والانجیل ومآ انزل الیکم من ربکم ۔(مآئدہ: ٦٨)

اوایه اے کتاب والو! تاسو د الله په نزد هیڅ نه یئ ترڅو چي تورات (خپله زمانه کښي) او هغه کتاب چي تاسو ته ستاسو رب د طرف نه نازل شوی (یعنی قرآن ) (په خپله زمانه ) کښي قائم او جاری نکړي د الله د کتاب د اقامت معنی ده قرآن عام کول دا قائم او نافذ کول چي د هغي تفصیل وړاندي راروان دي دایوڅو آیتونه وو چي پکښي د ذمه داري او د شهادت حق تاکیدی بیان وو اوس که مونږه او تاسو دا نهٔ پوره کوو او غفلت پکښي کوو نو هلاکت او ذلت به زمونږه مقدر

وی چي دهغي مونږه فی الحال هم مشاهده کوو او زمونږه حشر به هم هغه شان وی څهٔ رنګه چي زمونږ نه مخکښي د هغه خلقو شوي وو چا چي په دي ذمه دارئ کښي کوتاهی کړي وه چي د هغوی خبر مونږ ته الله راکړي دي چي د هغوی په شان انجام به ستاسو هم وی د دي امت نه مخکښي پدي ډیوټئ باندي یهودیان ادرولي شوي وو او هغوی ته حکم کړي شوي وو چي۔

**ولا تلبسو الحق بالباطل وتکتمو الحق وانتم تعلمون۔(بقرہ: ۴۲)**

او حق د باطل سره مهٔ ګډوډ کوئ اومهٔ (دي ) حق لره پټوئ (بلکه دَ دے ګواهی اوکړئ )ځکه چي تاسو خو پوهیګئ لیکن هغوي څهٔ دا حق پټ کړو څهٔ ئي ګډوډ کړو او په څهٔ کښی ئي د حق خلاف ګواهی اوکړه نو خپله غټه او درانه ذمه داری ئي پوره نکړه نو نتیجه دا شوه چي الله دوی لره ذلیل او خوار کړل او عذاب ورباندے راغلي۔

**ضربت علیهم الذلة والمسکنة وباوو ا بغضب من الله .(بقرہ: ٦١)**

یعنی په دوی باندي ذلت او خواری او غریبی او بد حالی مسلط کړي شوه او د الله غضب کښي آخته شو او بس ددي شهادتِ حق ذمه داری په مونږه او تاسو واچول شوه ځکه دغي دپاره انبیاء کرام دنیا ته رالیږلي شوي وو دي ادا کول په دوی فرض وو بیا دغه شهادت د تمام انبیاء نه بعد د هغوی په امتیانو فرض کیدله او اوس د خاتم النبین ؑ نه بعد دا فرض په امت مسلمه باندي په مجموعی حیثیت سره داسي عائد کیږی څه رنګه چي په نبی صلی الله علیه وسلم باندي په زندګئ کښي په

شخصي حیثیت سره عائد وه دا ذمه داری الله تعالیٰ ځکه په انبیا کرام او د هغوی په امتونو باندي کیخودلي وه چي په خلقو حجت قائم کړی ګیني بیا به د خلقو حجت او بهانه اولتہ په دوی قائم شی چی الله تعالیٰ د حقیقت کوم علم تاسو ته درکړي وو او کم طریقه د زندګئ الله پاک تاسوته خودلي وه هغه تاسو مونږ ته نهٔ وه رارسولي اونهٔ مو مونږته خودلي وه لکه څنګه چي قرآن کریم کښي د دي تذکره ده چي-

**لئلا یکون للناس حجة بعد الرسل.**

دغه وجه وه چي انبیا کرامو به ددي ذمه دارئ بوجه شدت سره محسوس کولو او د غي وجي نه هغوی خپل طرف نه د حق شهادت اداکولو او په خلقو حجت تمام کولو دپاره ښهٔ کوشش کړي وو بیا چي کومو خلقو د انبیاء په ذریعه سره د حق علم او د اصلاح او هدایت لاره بیا موندله نو هغوی نه یو امت او یو جماعت جوړ شو او هغه منصب د شهادت او ذمه داری چي د کومي بوجهه په انبیاء کرام اچولي شوي وو هغه اوس د دي امت په حصه کښي راغلي دي. د انبیاء کرام قائم مقام کیدلو او دهغوی وارث کیدلو په حیثیت سره دوی ته دا مقام حاصل شو که چري د امت د شهادت حق ادا کړي او د خلقو اصلاح اوشی نو دوی ته به اجر حاصل شی ګینی نو انکار کونکي خلق به نیولي کیږی کهٔ چري امت پدي ذمه دارئ کښی کوتاهی اوکړی حق پټ کړي یا اولتہ د باطل شهادت کړی نو عامو خلقو نه مخکښي به دوی نیولي کیږی دوی نه به دخپلو اعمالو تپوس هم کیږی او د هغه خلقو د اعمالو

تپوس به ترینه هم کیږی چي دوی د صحیح شهادت نهٔ ورکولو ذمه دارئ نهٔ پوره کولو یا غلط شهادت کولو د وجي نه ګمراه او مفسدین او غلط اعمال يئ كول دا د شهادت حق یا داجتماعی اصلاح هغه نازک ذمه واری چي په ما او په تاسو او په هغه چا عائد کیږی چي ځان ته امت مسلمه وائی او چاته چي د الله کتاب او د انبیاء هدایت او تعلیمات رسیدلي دی د دي اجتماعی ذمه دارئ او اصلاح پوره کولو د پاره به دوه کاره کول غواړی-

(۱)دعوت دین (۲) اقامت دین

چي دیته قولی او عملی شهادت هم وئیلي کیږی

## دعوتِ دین یا قولی شهادت

د دعوتِ دین یا د قولی شهادت صورت داوی چي ژبه او قلم تحریر او تقریر د قرآن درسونه او تدریس کتاب او لټریچر غرض داچي دا اصلاح پوهه کولو او زړهٔ ته کوز ولو چي سومره طریقي ممکن وی دي ټولو نه کار اغستل او د تبلیغ او دعوت او د نشر و اشاعت چي څومره ذرائع ممکن وی هغه استعمالول اوپه دي سره دنیا ته هغه دین حق رسول چي الله تعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم یعنی شریعت د انسان دپاره مقرر کړي دي په دي ټولو ذرائعو دَ دعوت او اصلاح کښي دَ ټولو نه اعلیٰ او بهتره ذریعه د اصلاح او دعوت قرآن پاک ده چي د هغي تذکره مونږه مخکښي کړي د دي دعوت په دوران کښي چي د ټولو نه اول د کوم څیز او فکر دعوت ورکول دی او اصلاح کول

دی هغه ایمان او عقیده داچي د اسلام اساس یعني بنیاد دي نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خپل دعوت ابتدا هم د دینه کړي او داسلام اولین جماعت صحابه کرامو ؓ باندي ړومبي محنت دغه شوي وو دیارلس کاله چي قرآن نازلید لو نو مکی سورتونو کښي هم دغه مسئله بیان کیدله او امت ته هم نبی کریم صلی الله علیه وسلم د دعوت طریقه هم دغه اوښودله حضرت معاذ بن جبل ؓ چي یمن ته تلو نو نبی صلی الله علیه وسلم ورته دَ دعوت دا طریقه اوښودله.

چي (**فلیکن اول ماتدعو هم اِلیٰ اَنْ یوحدو الله تعالیٰ**)

"دا خلق د ټولو نه ړومبي د الله توحید طرف ته راؤبله" فکر او عقیده جوړ یدلو نه بعد دی عبادات،اخلاق وسیرت ،کسب معاش او اولین دین، تهذیب وتمدن، معاشرت، قانون او د عدالت نظم، سیاست او تدبیر ریاست تمام هغه نور کارونه چي دین د انسان درهنمائی دپاره پیش کړي هغه بلا خوف و خطر بغیر کم والی زیات والی نه په دلائل او شواهد سره واضح بیان کړی ددي دعوت دي ورکړي اوچي څوک د دي دعوت حق او دین حق خلاف وی په هغوی معقول تنقید کول چي اُودِ وائی چهٔ په دي کښي څهٔ خرابی ده او د منکر رد کولو فریضه ادا کوی او د دي دعوت حق او هدایت خلق دپاره تمام مجموعی طور داسي فکر شی لکه څنګه چي انبیاء علیهم السلام انفرادی طور باندي د دي دپاره بغیر د څهٔ لالچ او دنیاوي طمع نه فکر مند به وو۔

(**ویٰقومِ لا اسئلکم علیه مالًا اِنْ اجری الا علی الله**)هود :۲۹

اے زما قومه زه ددي بیان په بدل کښي تاسونه څۀ مال دولت نه غواړم زما بدله خو دالله په ذمه ده د دي حق اداکولو دپاره ضروري ده چي دا کار زمونږ د اجتماعي کوششونو او سعي او جدوجهد مرکزی نقطه وی مونږ د خپل زړۀ او دماغ ټول قوتونه مالی جانی او وقتی صلاحیتونه او خپل ټول وسائل او ذرائع په دي اولګوو تر دي حده پوري چي زمونږ په ټولو کارونو کښي دا مقصد لازم او د نظر لاندي وي چي زمونږ لټریچر او زمونږ صحافت دوی د خوبیانو سند پیش کوي چي زمونږ د منبر د محراب نه ددي حق آواز ونه اوچت شي۔

## اقامت دین یا عملی شهادت

د اجتماعی اصلاح په سلسله کښي دَ زبانی دعوت سره سره د دي دین حقه په خپله زندګئ کښي د دي عملی مظاهره کول دی چي دنیا صرف زمونږ د خولي نه د دي د صداقت تذکره واؤ نۀړی بلکه په خپلو سترګو سره زمونږه په ژوند کښی د دي د خوبیانو او برکتونو مشاهده اوکړی چي مونږ څپله او نور خلق هم دا او ګوری چي د دي دین او قرآن په رهنمائی کښي څۀ رنګه ښۀ انسان جوړیږی څۀ رنګه یو عادل سوسائټی (معاشره) جوړیږی څۀ رنګه صالح معاشرت وجود ته رائی څۀ رنګه پاکیزه او صفا تمدن وجود ته رائی څۀ رنګه منصفانه همدردئ والا اوبے نزاع (بے جهګړو) معاشی تعاون رانښکاره کیږی او د انفرادی او اجتماعی ژوند هره پهلو څۀرنګه سمیږی او خائسته کیږی او د ښیګړو نه مالا مال کیږی د دي اقامت دین یا

شهادت عملی حق صرف داسي ادا کیدیشی چي مونږه فردًا فردًا دین حق قرآن وسنت او شریعت پدي یو څو فټ بدن باندي نافذ کړو زمونږه عقیده زمونږاعمال اخلاق معاملات او معاشرت او شکل و صورت د شریعت مطابق وی او زمونږ د افرادو کردار دوي د صداقت کښي د دي دین حق د اقامت دپاره داسي منظم جدوجهد شروع کړو چي زمونږه کورونه د دي د خو  شبوئی نه معطر شی زمونږه دوکانونه کارخاني او کاروبار د دي د رنړا دوجي نه روښانه شی زمونږه اداري او زمونږ مدرسي د دي په نور سره منور شی زمونږه قومی پالیسي اجتماعي سعي او جُهد او سیاست وریاست د دي په حق کیدلو باندي روښانه دلیل وی نو هله به زمونږه او دنیا والا هم د دي دین حق د اقامت خوبیانو او برکتونو مشاهده اوکړی لکه څنګه چي د اللّٰه تعالی ارشاد دي۔

**ولو أَنهم اقاموا التوٰرٰۃ والانجیل وما انزل الیهم من ربهم لَاَکَلُوْا من فوقهم ومن تحت أرجلهم ۔**(مائده۔۶۶)

که چري دوی تورات جاری کړي وي (پخپله زمانه کښي دغه رنګه که انجیل والو) انجیل (خپله زمانه کښي جاری کړي وي) او هغه کتاب چي دوی ته دَ رب طرف نه نازل شوي وي (هغه یئ په دی زمانه کښي) جارۃ کړي وي نو دوی به بره د خپل ځان نه او لاندي د خپل ځان خوراک کړي وي یعنی په دوی به هر طرف نه نعمتونه او برکتونه وی نن که هر طرف ته پریشانی بدحالی او فساد دي او مونږه انفرادی او

اجتماعي توګه باندي ذلیل او خوار یو نو د دي وجه هغه دعوت حق او اقامت حق پريښوستل دی د اقامت دین او نفاذ دین دا ذمه داری دا صرف نفلی کار او دَ ثواب کار ندي چي د دي په پوره کولو سره به ثواب ملاؤشی اوکهٔ پریږدو نو څهٔ غټه خبره نده هرګز داسي نده بلکه دا ذمه داری په مونږه فرض ده الله تعالی د دي کار د پاره تاکیدی امر راوړي دي او ړومبي خپل نبی مخاطب کوی او بیاد نبی صلی الله علیه وسلم په وساطت (تعلق) سره هر امتی مخاطب کوی او حکم ورته کوی او فرمائی۔

**انا انزلنا الیک الکتاب بالحق لتحکم بین الناس بما اراد ک الله .**

**(نساء: ۱۰۵)**

بے شکه مونږه تاته په حق سره کتاب نازل کړي دي د پاره چي دَ خلقو مینځ کښي فیصله اوکي په هغه هدایاتو سره چی تاته الله ښودلي دی کهٔ چري مونږه ذاتی کورنی انفرادی یا اجتماعی ژوند کښي د دي دین حق نه علاوه چرته بل دین، طریقه یا ازم په ځان لاګو کړو نو هغه د الله په نزد قابل قبول نه دي۔

**و من یبتغ غیر الاسلام دینا فلن یقبل منه وهو فی الاخرة من الخاسرین.**

**(العمران: ۸۵)**

اوچي څوک د اسلام نه غیر د بل دین طلب ګار وی نو هغه به دَ دهٔ نه قبول نکړي شی او داسي کس به په آخرت کښي دَ تاوانیانونه وی

ځکه چي دکوم دین نفاذ او اقامت او دَ کوم دین خپلول اوپه عمل کښي راوستل چي الله تعالی ته منظور او مقصود دی نوهغه

**ان الذین عند الله الاسلام. العمران :۱۹)**

یعنی په حیثیت د دین سره کهٔ د الله په نزد مقبول دي نو هغه صرف او صرف دین اسلام دي بل هیڅ یو نهٔ دي قبول.

## د دوارو شهادتونو یعني دعوت او اقامت دین جائزه

په مونږ کښي به ډیر کم خلق وی چي چرته به هغوی انفرادی طور باندي د دین کامل په ژبه او قلم سره دعوت او شهادت ورکوی او بیا په دوی کښي هغه خلق په ګوتو سره شمارلي کیږی چي دا دعوت په داسي طریقي سره ادا کوی څهٔ رنګه چي د دي د ادا کولو حق دي که چري دا لږ خلق جدا کړي شی نو تاسو به اوګورئ چي د مسلمانا نو عام دعوت، محنت، او شهادت دَ اسلام په حق کښي نهٔ بلکه د دي په خلاف روان دي یا کم ازکم د هغه طریقي مطابق نهٔ دي چی شریعت ورله وضع کړي ده. د خلقو عقائد لګیا دی خرا بیږی اعمال ئي بربادیږی اخلاق وکردار ئي ورځ په ورځ خرابیږی معاملات و معاشرت بدتر نه بدتر کیږی د منکراتو هر طرف ته زور دي منبر و محراب نه د حق آواز تقریبا بند شوي مصلحین د مصلحتونو ښکار شوی دی رهبر دَ رهنما خپلي لیډرئ کولو په غم کښي دي منکر ته منکر وئیل مشکل شوي دی چي کوم یو د الله بنده منکر ته منکر وائي نو د متشدد کیدلو پیغور ورکولي شی اکثریت خو رد دَ منکر دَ دي وجه نه هم پریخودلي

دي كه منكر ته منكر وايو نو خلق خفه كيږى بيا چندي نه ملاويږ ي كاروبار خراب او بنديږى خلق تعلقات ختموى او قطع تعلق كوى كه باطل ته غلط او ظلم ته ظلم وايو او د دي خلاف آواز پورته كوو نو بيا به دنيا راته دهشتګرد او انتها پسند وائى دا خو زمونږ دَ دعوت حال دي اوبل طرف ته د اقامتِ دين او دعمل بالدين حال د دي نه هم بد تر دي زمونږه عقائد او اعمال ټخپله ګواهى وركوى چهٔ مونږه د دين نه آزاد يو چي كومه عقيده او عمل مو زړهٔ كښي راځى هغه به كوو د الله تعالىٰ خالص بندګى چي دهغي بنياد په توحيد دي هغه منو په شرک سره رنګ كړه هر در او ديوال ته راخكته كيږو دَ هر چامخي ته عاجزئ سره لاس غوړوو هر سجده وني او قبر ته كيږي د الله تعظيم غير الله ته كيږي دَ هر عاجز مخلوق نه خپل اميدونه غواړى او پيوسته كړي ئې دى ورپوري د هر غير نه د اولاد او بركاتو طمع ده هر خيز نه د الله په شان خوف دي د اعمالو او عباداتو حال دا دي چي هر عمل او عبادت دَ شريعت يعني د نبى صلى الله عليه وسلم د طريقي نه خلاف طريق باندي جارى دي په عباراتو غم ښادئ الغرض په هر عمل كښي د خپل طرف نه نوي نوي بدعات خيرافات او د رسوماتو پابندى ده بيا دا وائى چي زمونږه شكل او صورت اوسيدل ناسته پاسته د دي خبري ګواهى وركوى چي زمونږه په دين اسلام باندي عمل خوښ نهٔ دي. دغه وجه ده چي د كافر او مسلمان په مينځ كښي ظاهرًا څهٔ فرق نه ښكارى.

زمونږه معاملات او معاشرت د دي خبري واضح ثبوت دې چي زمونږه د اسلام په ځائي د غير خلقو نظام معاملات او معاشرت خوښ دے زمونږ ه سياست او حکومتونه د دي خبري ښکاره ثبوت دي چي مونږه دين اسلام کامل نه ګڼړو زمونږه عدالتونه زمونږه وکيلان، جج او منجسريټ داګواهي ورکوی چي د اسلام ټول قوانين غلط دی بلکه د اسلامی قانون بنيادی نظر قابل قبول نهٔ دي صحيح صرف هغه قوانين دی چي انسانو وضع (جوړ) کړي دي او روس او چين ملحد ينو د يورپ مادر پدرآزاد انګزيز او د آمريکه سرکار معرفت مونږ ته رارسيدلي زمونږ ليډران د دي ګواهی ورکوی چي د دوی سره هم د قوميت او د وطنيت هغه نعرئي دی، قومی هغه مقاصد دی، قومی مسائل حل کولو هغه رنګ او چل دے، د سياست او دستور هم هغه اصول دی چي کوم د کافرو سره دی اسلام دي باره کښي هيڅ رهنمائي نده کړئي چي دَ هغي طرف ته مونږ رجوع اوکړو د دنيا زيات افسوس په هغه مذهبی رهنماؤ اوليډرانو باندي دے چي د اسلام او نفاذ اسلام نعره خو وهي خو ليکن هغي د پاره لار هم هغه د مغربي جمهوريت اختياروی او د دي خبري ګواهی ورکوی چي اسلام خو قابل نفاذ دې خو ليکن د نفاذ لاره هغه به د يورپ والو وی يعني مغربی سياست او جمهوريت او حد خو دادي چي چرته هم څهٔ نه څهٔ آزاد يا نيم آزاد حکومتونه موجود وی هلته کښي هم مونږه اساسِ حکومت، نظام حکومت او مجموعه قوانين دکفارو نه اغستلي دی اوکهٔ چرته د اسلام په نوم څهٔ قانون شته

نو هغه هم د ترمیم نه بغیر ندے بلکه برائے نام دے زموږه تعلیمی اداري زموږه معلمین او پروفیسر صاحبان دا شهادت ورکوی چې فلسفه و حکمت تاریخ واجتماعیات معاشیات و سیاسیات او قانون و اخلاق سره متعلق هغه پالیسۍ او نظریات برحق دی چې د مغرب ملحدانِ تعلیم نه ماخوذ او لارډ میکالې پیش کړي دی او چې دا نظام ئې پیش کولو نو دا ئې وئیلی وو زموږ د تعلیم مقصد داسې ځوانان پیدا کول دی چې د رنګ و نسل په اعتبار سره خو هندوستانی وی او دَ زړهٔ او دماغ په اعتبار سره فرنګی.

زموږ د ادیبانو او سکالرانو دا حال دے چې دوی سره د ادب هغه پیغام دے چې دَ امریکا برطانیه فرانس او روس ګمراه او دهریه ادیبانو سره دے د مسلمان په حیثیت سره د دوی د ادب څهٔ مستقل روح نیشته بل طرف ته زموږ دپریس الیکټرانك میډیا او د تمام ذرائع ابلاغ حال هم هغه دے کوم چې د غیر مسلمو دے هم هغه مباحث مسائل او د پروپیګنډې هغه انداز دي کوم چې دهغوی دے خلقو ته په غیر محسوس انداز سره په پرنټ او الیکټرانك میډیا باندې سیکولر ذهن لرونکی قلم نګار دانشور او تجزیه نګارو په ذریعی سره دا باور ورکولې شی چې دا د اسلام نوم اغستونکې او د دې په طریقو تلونکې غټ د قیانوسی خیالاتو مالکان دي او خلق د جدید دنیاوی علوم ایزده کولو نه منع کولو سره د ځوارلس سوا کاله مخکښې سوچ ورکول غواړی حالانکه دا محض یو منفی پروپیګنډې نه سوا هیڅ نهٔ

دی حقیقت کښي دین او دنیا دواړه یو ځائے چلول غواړی خو په دواړو کښي به بنیاد به دین وی زمونږ د تاجرانو او صنعت والو خیال دا دے چي اسلام د لین دین کوم حدود قائم کړی هغه ناقابل عمل دی او کاروبار صرف به هغه طریقو باندي کیدیشی چي په کومو طریقو کفار عمل کوی د جائیداد خاوند زمیندار اوجاګیردار دَ اسلام قانون وراثت او تقسیم ته غلط او د جاهلیت رواج ته صحیح وائی زمونږ د بعضِ علماؤ او پیرانو هم هغه رویه او کردار دي چي کوم د یهودو او انصارو د احبارو (علماؤ) او رهبانو پیرانو ؤو او باقی پاتي شو زمونږ عوام نو هغوی سره د خپلي زندګئ مصرف دَ دنیا او دهغي دَ معاملاتو نه سوا هیڅ نیشته او دوی څهٔ داسي دین نه لری چي هغي طرف ته په خپله ژبه سره د عوت ورکړی یا خپل بدن او نور صلاحیتونه د دي دین دپاره خرچ کړی یا دوی دپاره څهٔ وخت صرف کړی د ښځو حال خو د سړو نه هم په سوچنده بدتر دے د دوی اکثر عقائد مشرکانه جاهلانه او دَ تو هم او غلط قسم ګمانونو ښکار وی د دوی د زندګئ اوسیدل ښادی خوشخالی و غم  د هندوانو د رسم په شان وی اکثر کتلي کیږی چي په لباس او زیوراتو کښي د کافرو او مشرکو ښځو پیروی کوی د دوی مجلسونه د غیبت نه ډک وی مونځ پسي مونځ پریږدی روژه پسي روژه پریږدی دَ کالو حرص ئي شته خو زکوة طرف ته یي فکر نه ځی حالانکه په غیر اسلامی کارونو کښي مخکښي دی فکر د آخرت ذره برابر هم نیشته۔

د مسلمانو ښځو په غیګ کښې سالانه زرګونه ماشومان پرورش حاصلوی مګر دغه ماشومانو ته نهٔ دین ښودلي کیږی اونهٔ د دین دپاره بهادری کولو شوق ورکولي کیږی.

هلکانو نه سمي جینکۍ جوړي شوي دی افسوس چي دَ جینکو به هم دومره د فیشن شوق نه وی لکه څومره چي دَ فیشن، ویختو اوځان ښهٔ سوټ بوټ کولو خیال هلکانو ته شوے دی مور پلار او بچی ټول په دي فکر کښي وي چي څنګه به انګریزان جوړ شو کاش چي مسلمان نهٔ وي چي مسلمانان یُو نو د مُلَّا د فتوؤ نخښه جوړه شو د اسلام ناګهاني مصیبتونه ولی د بند کړے شی چهٔ نهٔ به مسلمانان وے او نهٔ به چا د پردي دپابندي کولو وئیل نه بد د کلب تلونه چا منع کولي نهٔ د ایکټر جوړیدلو به ممانعت کیدی او نهٔ به د تصویر جهاپ کولو نه چا منع کولي دا خیالات دی دهغه چا چي مسلمان ورته وئیلي کیږی (معاذ الله) غټ واړهٔ ټول به درته په انګلش فیشن کښي غرق شوي ملاؤشی د جینکو په سر به لوپټه نه وی قیمص به بغیر د نستونړو وی نیمه سینه او ملا به د کیدي نه باهر وی دا ده زمونږ د اقامت دین او عملی شهادت جائزه چي د تمام دنیا مسلمانان تقریبا متفق طور باندي د اسلام خلاف پیش کوی دا یوڅو بندګانو د الله نه علاوه زمونږ دي حالاتو ته چي اوکتل نو د یورپ یو مصنف لارنس براؤن په خپل کتاب کښي اسلام ته به متعصانه ذهن سره پیغور ورکوی چي کله مونږه په هندوستان کښي د اسلام دیوانی او فوجداری قوانینو لره بے فائدیی او نا

قابل عمل اوګنړل او منسوخ موکړل او د مسلمانو د پاره مو صرف پرنسل لاز باقی پریخودلي وه نو په مسلمانانو دا ډیر بده لګیدلي وه ځکه چې دَ دوی پوزیشن هم هغه شان کیږی څنګه چې د اسلام په حکومت کښې دَ ذمیانو (کافر چې اسلامی حکومت ته ټیکس ورکوی) وو صرف دانهٔ چې مسلمانانو دا خوښ کړے دے بلکه ټچپله مسلمان حکومتونو په دي معامله کښي زمونږه تقلید اوکړو ترکي البانیه خو ددي نه هم تجاوز اوکړو او د نکاح قوانین طلاق وراثت پوري ئې زمونږ د معیاراتو مطابق پکښي اصلاحات اوکړل اوس د اخبره واضح شوه چې د مسلمانانو دا تصور چې د قانون ماخذ به اراده الهی وی نو دا دیو مقدس افساني نه زیات هیڅ ندی بهر حال مونږه د غیرو د خندا او د ټوقو شو او دَ الله د سزا هم مستحق شو دا دین او د دي ذمه دارئي د الله تعالی نعمت وو لیکن مونږ دا نعمت رد کړو اوچې کوم قوم د الله تعالی ناشکری کوی او د هغي نه بے پرواهی کوی او دخپل خالق سره غداری کوی نو الله هغوی ته دنیا کښي هم عذاب ورکوی او آخرت کښي هم حقیقت دا دي چې مونږه څومره د دین حق شهادت ورکولو کښي کوتاهی اوکړه او د باطل شهادت ادا کولو کښي چې زمونږ قوم په کوم رفتار سره مخکښي ځی نو هم په دغه رفتار سره مونږ ه سره مونږه پریوتلو او پر یوځو نن دا خبره د مشاهدي ده چې ملکونه زمونږ ه دلاسونه اووتل د مسلمانانو یو یو قوم مغلوب او محکوم کړے شو نن کشمیر،فلسطین،افغانستان او دعراق حالات زمونږ وړاندې دی اوس د

مسلمان نوم فخر او د عزت نۀ بلکه د ذلت یو مسکن او دَ پسماندګۍ نشان جوړ شوے دے په دنیا کښي زمونږ هیڅ عزت باقي پاتي نه شو چرته زمونږ قتل عام روان وی چرته به د کورنه بے کوره کیږو مونږه د نوکرئ او خدمت دپاره ژوندي پریخوستلي شوي یو بحرحال مونږه په خپل دي حالت سوچ ندي کړے او نۀ د مسلمانانو مذهبی پیشواؤ او سیاسي رهنماؤ پدي باندي د ځان پوهه کولو کوشش کړے دي هر ځائي کښي مسلمانانو ته دا باور ورکولي شی چي ستاسو اصل مسائل تحفظ دَ قوم او مادی ترقی ده بلکه دا حضرات خو د دي مسائل د حل تدبیرونه هم هغه وائی چي کوم دوی د غیر مسلمو نه ایزده کړي دی لیکن څه په ډیر یقین سره وائیم چی ستاسو بالکل غلطه رهنمائی کیږی او په دي لارو تلو سره تاسو چرته هم خپل د فلاح منزل تهٔ نشئ رسیدلي یقینا دا خبره به ستاسو په زړهٔ کښي وی چي د دي حل څهٔ دے او د دي نه د نجات لارسه ده؟ نو د دي حل او لار معلومولو او تلاش کولونه مخکښي مونږه به دا فیصله کوو چي یا خوبه د اسلام لیبل لري کړؤ اوښهٔ ښکاره به کفر اختیار ؤو (نعوذ باللّٰه من ذلک) نوکم از کم دنیا به مو داسي جوړه شی څهٔرنګه امریکه روس او د برطانیه جوړه شوي ده یا د حقیقی مسلمان جوړیدلو فیصله اوکړئ چي د حقیقی مسلمان جوړیدلو فیصله مو اوکړه نو اوس به مکمل دین خپلول غواړی هغه ذمه دارئ به پوره کول غواړی چي دَ کوم تذکره

اوکړي شوه او دا کار به روستو وی په آرام به وی لیکن مضبوط او بنیادی دے۔

## زمونږ مقصد او طریقهٔ کار

زمونږ د جماعت اشاعت التوحید و السنت مقصد هم دغه دے چي مونږه هغه ټولو خلقو ته چي اسلام خپل دین ګڼړي هغوی ته دا دعوت ورکوو چي د دي دین نه واقعی خپل دین جوړ کړي اول دي انفرادی طور باندي هر یو مسلمان په خپله ذاتی زندګئ دا قائم کړی دي بیا اجتماعي طور باندي قوم ته د دي دعوت ورکړی چي ټول قوم په خپله زندګئ کښي د دي اشاعت، اقامت او نفاذ د عمل دپاره تیار شي مونږ دا وایو چي تاسو خپله عقیده کښي، عمل و عبادت کښي، خپلو کورونو کښي، خپل خاندان کښي ،خپله سوسائټئ کښي، خپل ملك کښي، خپلو تعلیم ګاهونو کښي او خپل سیاست او حکومت کښي پدي ترتیب او اندزي سره عمل قائم کړئ او دَ خپل قول او عمل په ذریعه سره دنیا ته د دي د رشیاوالی ګواهی ورکړئ مونږ دا وایو چي ستاسو د ژوند اصل مقصد هغه د قرآن په ذریعه سره انفرادی او اجتماعی اصلاح کول دی بیا د اجتماعی اصلاح په سلسله کښي دعوت دین او اقامت دین دے د دي وجه نه زمونږ او ستاسو د تمام سعي او عمل مرکز ومحورهم هم ګرځول پکار دی د دي د پاره هر قسمه جانی مالی او وقتی قربانی دپاره تیار اوسو او د هر هغه خبري، کار،عقیدي، عمل او قانون نه بیزار شو چي د دي دین حق ضد وی

اوچي د هغي دوجه نه د اسلام غلطه نمائندګی کیږی قرآن، سنت او شريعت اسلام مخي ته کيږدو او په خپل ټول قولی او عملی رويه نظرثاني اوکړو او خپل تمام کوششونه په دي کښي اولګو چي دين پوره عملا قائم شی او ددي د حصول دپاره صحيح شرعی لار اختيار کړی شی هغه دا ده چي ټولو نه ړومبي مونږه مسلمانانو ته دهغوی فرض ورپه ياد کوو چي حقيقی مسلمان څۀ ده او له تاسو باندي د مسلمان کيدلو سره کومي ذمه دارئ عائد کيږی د دوی د اصلاح په سلسله کښي د قرآن کريم په ذريعه سره دَ دوی عقائد درست کړو اعمال او عبادات د سنت طريقي مطابق کولو باندي د راوستلو کوشش کړو دوي ته اسلام، اخلاق، معاملات اومعاشرت اوښايو او په هغي د عمل کولو کوشش اوکړو چي کوم خلق په دي خبره پوهه شی نو هغوی ته مونږه بيا داهم وايو چي د اسلام ټولي تقاضي په انفرادی طور نه شی ادا کيدلي نو دغي وجه نه بيا ورسره د دي ذمه دارئ ياد دهانی ورته هم اوکړو چي دغه محنت به په اجتماعی سطح هم کول غواړی او نور خلق هم په لاره راوستل دی.

او د دغي غرض د پاره زمونږ مشرانو جماعت اشاعت التوحيد والسنت په شکل کښي يو مناسب سټيج مهيا کړے دے

# نظم د جماعت

د دي مقصد د پاره اجتماعی او جماعتی شکل کښې سعي او محنت ضروری دے د زندګئ ډیره لګه حصه انفرادی ژوند سره تعلق ساتی که دغه انفرادی دین چرته قائم هم کړے شی نو دي سره نهٔ پورا دین قائم کیږی اونهٔ د دي شهادت او اقامت د پاره دا ضروری ده چي ټول هغه خلق چي د مسلمان کیدلو دَ ذمه دارو شعور لری او د دي د ادا کولو اراده لری هغوی یوځائی شی او منظم طریقي سره دین عملا قائم کړی انفرادی او اجتماعی اصلاح او اقامت اوکړئ دنیا ته  د دي طرف ته راتلو دعوت ورکولو کوشش اوکړئ او هغه مزاحمتونه او رکاوټونه د لاري نه لري کړئ چي کوم اقامت د ین او دعوت دین په لار کښي خائل وی او دا ټول د جماعت په ذریعي سره ممکن دی ځکه د جماعت سره د الله تعاون او نصرت وی لکه څنګه چي ارشاد نبوی دے (**ید الله علی الجماعة**) دغه وجه نه چي په دین کښي جماعت،تنظیم لازم کړي شوے دے .

اصلاح خلق، دعوت دین او اقامت دین د جدوجهد دپاره دا ترتیب کیخودلي شوي دے چي اول نظم جماعت به وی بیا به د الله په لار کښي سعي او جدوجهد اوکړے شی۔د اسلام په پوره نظام نظر اچولو سره دا خبره واضح کیږی چي دا دین د مسلمانانو په هر اجتماعی کار کښې نظم  غواړی او دغه نظم صحیح صورت دپاره داتجویز ورکوی چي کار به د جماعت په شکل او نظم ونسق سره اوکړے شی په جماعت

کښې به سمع او اطاعت وی او يوکس به دَ دوی آمير وی کهٔ مونږ کولي شی نو جماعت دوجه نه دا مونږ ۲۷،۲۵درجئي د ځانله او بغير د جماعت کولو مونږ نه بهتر وی دغه رنګه کهٔ حج کولي شی نو منظم طريقي سره دي اوکړے شي ديو آمير ماتحت تردي پوري که درے کسان په سفر او وتل نو بيا هم دوی سره په منظم او جماعتی شکل سره سفر کول پکار دی او خپل ملګری نه آمير جوړول پکار دی۔

**اذا خرج ثلثة فی سفر فليؤَ مِّرُوْا عليهم احد هم**۔(ابو داود او د مسند احمد)

روايت دے چي :**لايحل لثلاثة يکونو بفلاةٍ من الارض الا امّروا عليهم احد هم**۔

حلال نده دا خبره چي درې کسان چرته په ځنګل يا صحرا کښ وی او هغوی په خپلو کښي يو په ځان باندي آمير جو ړ نکړی د دينه معلوم شوه چي صرف په سفر کښ نهٔ بلکه په هر حالت کښ مسلمانانو لره منظم طريقي سره ژوند تيرول پکاردی او دوی له هيڅ يو اجتماغی کار هم د جماعت او امارت نه بغير ندي کول پکارد اسلامي شريعت دا هغه روح دے چي هغه عمر فاروق رض پدی الفاظو سره بيان کړي دي (**لا اسلام الا بجماعة ولا جماعة الا بامارة ولا امارة الا بطاعة** ) جامع لبيان العلم ابن عبد البر )۔

جماعت نه بغير اسلام نهٔ دے او امارت نه بغير جماعت نهٔ دے او اطاعت نه بغير امارت نهٔ دے دغه وجه ده چي د جماعت نه بغير

ژوند د جاهلیت زندګی او د جماعت نه جدا اوسید ل د اسلام نه د جدا اوسیدلو په معنی کړي دي لکه څنګه چې د نبی کریم ﷺ ارشاد دے۔

**انا أمرکم بخمس اَللّٰهُ امر نی بهن الجماعة والسمع والطاعة والهجرة والجهاد فی سبیل الله فانه من خرج من الجماعة قید شبر فقد خلع ربعة الاسلام من عنقه الا ان یراجع ومن دعا بدعوی الجاهلیة فهو من جثيّ جهنم قالوا یا رسول وان صام وصلی قال وان صلی و صام وزعم انه مسلم۔(احمد وحاکم)**

زه تاسوته د پنځو خبرو حکم درکومه چې د کومو ماته الله حکم راکړي جماعت ، سمع ،اطاعت، هجرت، الله په لار کښې جهاد چې کوم سړے د جماعت نه یولیشت برابر هم جداشو نو هغهٔ د اسلام خلقه(رسۍ) خپل ستۍ نه اوغورزوله مګر داکهٔ واپس شی جماعت ته او چا چې د جاهلیت (یعنی افتراق او انتشار ) دعوت ورکړو هغه جهنمی دے صحابه کرامو رض تپوس اوکړو اګر که هغه روژي نیسی او مونځ هم کوی ؟ نبی او فرمائیل اګر که هغه مونځ کوي او روژه نیسي او د مسلمان کیدلو دعوی کوی د دي حدیث نه یو څو خبري ثابت کیږی.

١: د جماعت او آمیر سمع او اطاعت د الله او د رسول صلی الله علیه وسلم حکم دے.

۲: دین د کار او اصلاحي طریقهٔ کار صحیح ترتیب دا دے چي ړومبي جماعت وی او دهغي داسی نظم وی چي تمام جماعتی خلق(ارکان ) دیوآمیر خبره آوری او اطاعت ئي کوی۔

۳:چرته چي هم وی او څهٔ لګه هم ضرورت او موقع وی نو په دغي لحاظ سره هجرت او جهاد اوکړے شي۔

٤:جماعت نه جدا کیدل ګویا که اسلام نه جدا کیدل دی۔

مطلب دا دي چي جماعت نه جدا کیدل زمانهٔ جاهلیت طرف ته واپس تلل دی ځکه چي په هغه دور کښي په عربو کښ توك هم د چا اوریدلو والا نه وو د اسلام اکثر تقاضي او مقاصد نظم جماعت او اجتماعیت سره پوره کیدیشي دغه وجي نه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د جماعت نه د جدا کیدلو په صورت کښ د مونځ روژه او مسلماني دعوو باوجود هم د اسلام نه وتلي وئیلي دي۔

## زمونږ مطلوب کار

زمونږ د جماعت دعوی دا وه چي اصلاح د لاندي نه کیږی لکه آبادی چي د بنیاد نه جوړیږي او فساد دبره نه راځی لکه آبادي غورزول د بره چهت نه کیږی ترکومي چي د اصلاح او تربیت تعلق دے نو مونږه د خپل ارکانو اصلاح او تربیت په سلسله کښ اول هغوی د قرآن سره متعارف کوو د قرآن سره ورله تعلق جوړ وو او د قرآن په ذریعه سره اول ایمان او دعقیدي او بیا عمل عبادت

اخلاق معاملات او د معاشرت تربیت ورکوو او ورسره داهم ورته وایو چي هر عمل دسنت نبوی ﷺ او شرعی طریقی نه بغیر قابل قبول نهٔ دے او د دینه علاوه دا عقیده ورله هم مضبوط کولی شی چي دا دین حق دَ توحید وسنت او شریعت چي د کومو هستیانو یعنی انبیاء صحابه کرام رضی سلف صالحین او آئمه مجتهدین او علماء حق په ذریعه مونږه ته رارسیدلي دي نو دهغوی احترام او دفاع په مونږ فرض ده.

ځکه کهٔ داهستیاني د مینځ نه اوسیتل شی یا دوی متهم (تهمت لګولي نشوي) کړے شی نو بیا دین دین نه پاتي کیږی دي سره دا کهٔ تربیت هم ورکوو چي په دي حق ځان پوهه کول او بیا دخپل صلاحیتونو مطابق درس وتدریس قرآن ژبه وقلم په هر معقول او معتدلي طریقي سره په هره شعبه کښ داحق زیات نه زیات رسول اصلاح او د دي صحیح شهادت ورکولو دپاره تیار وی پاتي شو اقامت دین او اجتماعی اصلاح نو دي په باره کښ زمونږه کوشش دا دے چی اول یو یو شخص حقیقی مسلمان جوړ کړو چي هغه د اسلام چلتا پهرتا یو نمونه وی ـ بیا ددي افراد و اصلاح کولو په ضمن کښ د ټول کور محلے علاقے اصلاح کول چی یو داسی منظم سوسائټي (معاشره) جوړه شی چي په هغي کښ اسلام په خپل اصلی شکل کښ کار کو کوؤنکي اوکتلے شي لکه څنګه چی د صحابه کرام رضی او خصوصا د مدیني منوري د اسلامی

رياست د وجود او بنياد سبب هم دا طريقه جوړه شوه او حقيقتا هم دغه بنيادی طريقه ده کۀ چرته د دي لار کښي رکاوټ جوړ شی نو نظام باطل به د مټو په زور سره ختمول او نظام حق قائم کول به وی لکه څنګه چي مکه مکه مکرمه کښ اوشو غرض داچي د تحريك آغاز کولو کښ د دي نه علاوه بله لار نيشته چي مونږ ځائے په ځائے کورونه کښ محلو او د علاقو په سطح مساجد مدارس او سکول کالج يونيورستي او په هره اداره کښي د قرآن د درسونو خلقي قائم کړو او ددي درسونو په حلقو کښ هغه افراد چي د چا انفرادی اصلاح شوی وی بيائي په نظم جماعت کښ شامل کړو او ځائے په ځائے مختلف ذيلی جماعتونه او تنظيمونه دي مقصد دپاره جوړ کړو چي ديو مرکز آمير ماتحت او اشاعت د اصولو مطابق وي چي په خپله خپله طريقه کار اوکړی دا ټول کارونه خود غرضی لالچ ريانفسانيت او افراط و تفريط نه پاک وی اخلاص سره صرف د رضائے الهی او خپل مينځ کښي مينه محبت او رورولی باندي مبنی وی چي په هغي کښي د خپل خواهش په ځائے د شريعت تابعداری اصول جماعت پابندی او اطاعت آمير وی۔

## تاسو نه زمونږ مطالبه

بس هم دغه زمونږ مقصد او همد دغه زمونږه مشن او پروګرام دي مونږه صرف اصل اسلام او مکمل اسلام د قرآن وسنت په نهج سره پورته کړے دے نۀ مونږه د اقتدار خواهش مند نه د نوټ ووټ د حصول شوقيان، زمونږ مقصد صرف اصلاح ده او مسلمانونو ته زمونږ

دعوت ددينه سوا نور هيڅ ندے چي راشئ چي مونږه او تاسو خپله او د نورو خلقو اصلاح په قرآن وسنت سره اوکړو او بيا دين حق عملاً قائم کړو چي دَ دنيا والو مخي ته ددي حقيقی ګواهان جوړ شو اوس چي کوم خلق زمونږ جماعت او دا مشن پروګرام او طريقه کار خو ښوی دَ هغوی نه زمونږه دا مطالبه ده چي زمونږ په تنظيم کښی شامل دي شی او د دي مشن مخکښي بوتلو دپاره دي ميدان ته راوځی دي دپاره تمام صلاحيتونه قربان کړی د خپل فکر دي دے دپاره خرچ کړی او چي کوم سړے په دي جاعت کښي دي عظيم مشن دپاره داخل شو نو هغه دي خپل وخت مال وجان او خپل تمام صلاحيتونه د ي مشن دپاره وقف کړی او د دي شريعت،اصولِ جماعت او د آمير د حکم مطابق دي خرچ کړی پدي لاره کښ هر قسم ردو بدو، کنځل، پروپيګنډئی، الزامونه او هر تکليف دي برداشت کړی د خلقو د اعتراض نه دي نه ير يږی بلکه سنجيدګئ او دلائلُ سره دي جوابات ورکړی او چرته چي دا طريقه فائده مند نه وي نو هلته دي خپل وخت نه ضائع کوی بلکه خپل مشن دي وړاندې بوځی هم په دي کښي زمونږ د کاميابئ راز پټ دے۔

## خلاصه د بيان

د دي تمام بيان خلاصه دا وه چي زمونږ ذمه وارئی دوه قسمه دی-

ذاتی ، انفرادی او اجتماعی

ذاتی او انفرادی ذمه دارئ کښي مونږ لره دوه کارونه کول دی-

ا:ايمان او عقيده ايزده کول او جوړول

ب: عمل ایزده کول او هغه شریعت مطابق کول
اوس دا انفرادی ذمه داری او ذاتی اصلاح یعني عقیده وعمل دپاره قرآن ایزده کول او پوهه حاصلول ضروری دی.
اجتماعی ذمه داری او اصلاح په سلسله کښي هم مونږه لره دوه کاره کول دی.
۱:دعوت واشاعت دین          ب،اقامت ونفاذ دین
او دا اجتماعی اصلاح پوره کولو دپاره جماعت او نظم په شکل کښي جدوجهد کول.

## تعارف اشاعت

شاعة التوحید والسنة یو نظریاتی او خالص مذهبی تنظیم و تحریک دي چي د دي قائد اعظم هغه امام الانبیاء حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دے او دي مرشد امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله دے کوم جماعت چي دشاه اسماعیل شهید رحمه الله د تحریک او د اکابرین دیوبند حقیقی ترجمانی کوونکی جماعت دے چي دهغي پیشوا رئیس المفسرین مولانا حسین علی الوانی رحمه الله دے چي د هغي په بنیاد کښي وینه او خوله د شیخ القرآن محمد طاهر ،شیخ القرآن مولانا غلام الله خان عارف بالله قاضی شمس الدین شیخ التفسیر مولانا محمد آمیر بندیالوی او دهغوی ده ملګروشامل ده دا الله تعالی د فضل او رحمت مظهر دے او دا د بے شمار علماء حق و تقوی او دعاګانو میوه ده

نن د دي قافلے قائد شیخ القرآن مولانا محمد طیب طاهری صاحب دي او دَ دي تحریك بل چلوؤنکی خطیب الاسلام مولانا سید ضیاء الله شاه بخاری صاحب دے او د دي بل ذیلی تنظیم نوجوانان توحید وسنت دے چی په ټول ملك کښي په ځوانانو او خصوصا د دینی مدارس اوعصری تعلیمی ادااري ،سکول ، وکالج اوپه یونیورسټو کښي کار کوی۔

## زمونږه اعلان

- ❖ د الله د توحید پرچار به کوو او د سید الانبیاء د سنت ترویج به کوو -
- ❖ د شرک و بدعت قلعه ګاني به ورانولو دپاره به دَ خپل سر بازی لګوو -
- ❖ د هر مشرک سره به زمونږ دشمني او هر موحد سره به زمونږ دوستی وی.
- ❖ دهر بدعتی سره به زمونږ جهګړه او هر سنی سره به زمونږه پهچان وی.
- ❖ حاکمیت اعلی به صرف دیو الله احکم الحاکمین تسلیم کوو او د غیر الله حاکمیت اعلی کیدلو نه مونږ باغیان یو او دا بغاوت به هم دغه شان کوو.

❖ مونږ د هر هغه عبادت منکر يو چي په هغي کښ د غیر الله شمولیت وی.

❖ مونږ دهغه اطاعت منکر يو چي په هغي کښي د غیر الله دپاره قبولیت وی.

❖ مونږ دهغه تبلیغ منکر يو چي کوم کښي مداهنت وی او مداهنت ته نوم دَ حکمت ورکړي شوي دی.

❖ مونږ د هغه سیاست منکر يو چي کم کښي مقصود اقتدار وی.

❖ مونږد هغه طریقت نه منکر يو چي دَ کوم نه مقصود کاروبار وی.

❖ مونږ د هغه مشروالي نه پناه غواړو چي په هغي سره د شریعت سپك والي وی.

❖ مونږ د هغه رهنمائی نه لرے تختو کوم چي د اسلامی قیادت په تندی باندي يو بد داغ وی.

❖ مونږ د هغه ثقافت نه انکار کوو چي پکښي دبے غیرتئ تعلیم وی.

❖ مونږ د هغه تعلیم نه انکار کوو چي درندګی، سیکولری او کفر بنائی.

❖ مونږ په دنیائے اسلام کښي د ریشتنی مسلمانونو کتلو امید ساتو.

❖ مونږ په زمکه باندي د الله کلمه اوچتول غواړو او دغه زمونږ منزل دے.

مونږ ته دا علاء کلمة الله د پاره د الله د بندګانو ضرورت دے غرض دا چي د بند ګانو نۀ بلکه دکشتو سوزونکي او جنګیدونکي مجاهد ضرورت دے په نوم چي موحد وی د هغۀ نه دَ توحیدی جماعت د محبت نه ډک کارکنانو ضرورت دے د شخصیاتو پچاریان(عبادت کوؤنکی )نۀ د هر مشرک و ملحد سره جنګ کونکی جانباز و ضرورت دے د فرقه بازو نۀ منظم ببرشیرانو ضرورت دے د خور وُورسیل نه.

دَ مومنا نه فراست لرونکی او مجاهدانۀ شجاعت لرونکی قیادت ضرورت دے د چندو ورکونکو دَ چا پلوسۍ، د نعرے وهونکو، د خوشحاله کولو مهارت لرونکي او عام طریقه او میدان کښی د تللو فطرت لرونکي مشر والی نۀ.

# زمونږ منشور (اغراض ومقاصد)

۱: دَ توحید اشاعت او دشرک و بدعت رد کول.

۲: د انبیاء د عصمت او عقیده ختم نبوت حفاظت کول.

۳: تمام صحابه کرام رضی عادلان راشدان او معیار حق ګنړل او دوی د تنقید و تنقیص (کم والی) نه بالا تر ګنړل او د دوی د مقام د فاع کول۔

٤: د فقه څلور واړه مسلکونه حق ګنړل او د امام ابوحنیفه رح د مسلک پیروی او ترویج او د سلف صالحین احترام کول۔

٥: فهم قرآن عام کول او د اصلاح عقائد و اعمال دپاره د قرآن د درسونو اهتمام کول۔

٦: دَ پاکستان د سالمیت او پدي کښي د اسلامی نظام د نفاذ دپاره جدوجهد کول او داسي ماحول پیدا کول چي د اسلامي نظام دپاره جوړوی۔

۷: د مغربي تهذیب په مقابله کښي اسلامی کلچرل له فروغ ورکول او د اسلام سره متصادم دټولو اِزمونو مثلا کمیونزم سوشل ازم کیپټل ازم اوسکو لرازم وغیره سدباب کو ل۔

۸: غلبه اسلام او دفاع دپاره د مجاهدینو ملګر تیا کول جهادي ك لچرله فروغ ورکول او وخت راتلو سره د فوج شاپه شا اودریدل.

۹: فحاشی و عریانی او د جاهلیت رسوماتو حتمولو په ذریعه سره اصلاح د معاشري کول۔

۱۰: ځوانان عموما او طلبه خصوصا د نوجوانان توحید وسنت NTS د اغراض و مقاصد تکیمل او تبلیغ واشاعت دپاره تیارول۔